## مطبوعاتي اعلاميه

### د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ـ ښځو برخه غواړي یو نړیوال کمپاین پیل کړي:

### "ریښتینی بدلون یوازې خلافت ته د دعوت له لارې راتلی شي."

نن ورځ ګرده نړۍ تیاره او له ګډوډۍ سره لاس او ګرېوان ده. ملتونه له یو ناورین څخه بل ناورین ته ځي او د بشر کړاوونه ورسره ورځ تر بلې ډېرېږي. بې وزلي، لوږه، اقتصادي بې ثباتي، نسل وژنې، وحشیانه اشغالونه، استبداد، بې مانا جګړې، د کورنۍ ماتې، خراب ژوند، جرایم، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی، د روغتیا او ښوونې او روزنې په برخه کې ستونزې او نور کړاوونه، په تېره بیا ناوړه رهبري، چې نه پوهېږي څنګه د خپلو خلکو چارو ته په اغېزناکه توګه پام وکړي او د دوی اړتیاوې پوره کړي. د دوی تګلارې، قوانین او کړنې د خپلو خلکو کړاوونه لا پسې ډېروي.

نور اسلامي خاورو او نړۍ ته نه ښايي چې تل له تیارو، ویجاړیو، ناورینونو او کړاوونو څخه ډک وضعیت کې پاتې شي. په هرصورت، واقعي بدلون په نیمګړو نظامونو کې د یو څو کوچنیو بدلونونو په راوستو سره نه شي ترلاسه کېدای او اوس مهال تدریجي جزوي بدلون داسې مثال لري لکه یوازې له سمندر څخه چې یو څاڅکی کم شي. لنډمهاله حللارې، یا د ناکامو سیکولر نظامونو په سر کې د نوو څېرو راوستل چې په وار وار یې د بشر د ستونزو په حل، له مظلومانو څخه د ملاتړ او عدالت په برخه کې ناکامي ثابته شوې او په دروغجنو ژمنو سره یې د اسلامي امت او بشریت کړاوونه لا پسې ډېر کړې دي.

موږ د مسلمانانو په توګه اړتیا لرو چې له اوسني وضعیت، اوسني پانګوال نظم او د بشر په لاس له جوړ شوو نظامونو څخه بهر وګورو. موږ اړ یو چې د خپلو چارو د تنظیم او پرمخ وړلو لپاره خپل لیدلوری ولرو چې له دغو ستونزو او کړاوونو څخه مو وژغوري. دا د یوه بدیل نظام پیدایښت ته اړتیا لري چې د بشر ستونزې په ریښتینې توګه حل کړي. د مسلمانانو په توګه موږ ته ښايي چې بېرته هغه څه ته وروګرځو چې الله سبحانه و تعالی وربللي یو لکه د الله سبحانه وتعالی قانون، د هغه سبحانه وتعالی نظام او د اسلام پیغام د زړه له تله ومنو او د بشریت لپاره واقعي رهبري چې د نبوت پر منهج راشده خلافت دی تاسیس کړو. یوازې د الله سبحانه و تعالی نظام دی چې دا امت او ټول بشریت بریالی کولی شي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى * وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾**

***ژباړه:*** *«اوس که زما له لوري تاسو ته کوم هدایت ورسېږي، نو څوک چې د هغه هدایت پیروي وکړي، هغه به نه ګمراه شي او نه به په بدبختۍ کې اخته شي او څوک چې زما له ذکر (احکامو) څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.»* [طه: ۱۲۳.۱۲۴]

د سږ کال رجب میاشت، د خلافت د سقوط له ۱۰۲ مې کلیزې سره سمون خوري، د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر - ښځو برخه غواړي تر " ریښتینی بدلون یوازې خلافت ته د دعوت له لارې راتلی شي" سرلیک لاندې یو نړیوال کمپاین پیل کړي.

په دغه کمپاین کې پر دغو موضوعاتو بحث کېږي: د اسلامي خاورو د روښانه راتلونکې لپاره د اوسنیو نظرونو ارزونه، خلافت څنګه کولای شي چې ګډوډۍ په فرصت واړوي او د بشر ستونزو ته ریښتینې حللاره وړاندې کړي، مسلمانان د اسلامي خاورو او نورې نړۍ په ریښتیني بدلون کې څه رول لري او دا چې ایا راډیکال بدلون او د نبوت پرمنهج راشده خلافت بیا راتګ خیال دی او که شونی واقعیت.

**دغه کمپاین په لاندو پتو څارلی شئ:**

**وېبپاڼه:** www.hizb-ut-tahrir.info

**فسبوک:** .https://www.facebook.com/womenscmoht

**د کمپاین د معرفي ویدیو لېنک:** https://youtu.be/zRk5dx2t1ew

**ډاکټرنسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر.د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۳ م کال، د جنورۍ ۲۲ مه**

**د صدور ګڼه: ۲۵/ ۱۴۴۴**